❖❖❖

# د افغانستان اسلامي امارت او هند ترمنځ نوې راټوکېدلې اړیکې؛ ایا د ګډو همکاریو ساحې شته؟

محمد کوثر دولتزی[1]

**لنډیز**

د افغانستان او هند اړیکې لرغونی تاریخ لري او د اسلامي امارت له لومړۍ دورې پرته هند له افغانستان سره دوستانه اړیکې ساتلې دي. په ۲۰۲۱م کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راوروسته بیا هند د افغانستان په تړاو په خپل چلند کې خورا محتاط پاتې شوی او بهرنۍ تګلاره یې تر ډېره پر بشري مرستو راڅرخېدلې ده. د دواړو هېوادونو د اړیکو تاریخ او وروستیو پرمختګونو ته په پام سره اوسمهال د افغانستان له اسلامي امارت سره د دغه هېواد د راتلونکو اړیکو په اړه ډېر روښانه تصویر نشته. دا څېړنیزه مقاله په تشریحي –تحلیلي مېتود د افغانستان او هند تر منځ اوسنۍ او راتلونکې اړیکې څېړي او تر ډېره پکې له دویم لاس سرچینو لکه کتابونو، څېړنیزو مقالو، د پالیسیو لنډیز او د مشهورو ورځپاڼو له مقالو ګټه اخیستل شوې ده. مقاله د افغانستان له اسلامي امارت سره د هند د راتلونکې ښکېلتیا امکانات راسپړي او دا څېړي چې څه ډول دواړه هېوادونه کولی شي د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو همکاریو لپاره ګډ شرایط ومومي. د بحث موندنې ښیي چې هند د افغانستان له اسلامي امارت سره تعامل ته لېوالتیا لري او په ورته وخت کې د ګډو همکاریو یو شمېر داسې ډګرونه هم شته چې کولی شي د اسلامي امارت او هند د اړیکو په ټینګښت کې اغېزناک ثابت شي.

**کلیدي کلمې:** اسلامي امارت، هند، ګډې همکارۍ، اړیکې، اندېښنې

[1] د بهرنیو چارو وزارت په لومړي سیاسي ریاست کې د هند د ډیسک مسؤول.

**سریزه**

د هند او افغانستان اړیکې د لرغونو هندي سلطنتونو پېر ته غځېږي.[1] همدا راز د دواړو هېوادونو اړیکې د سیند د درې د تمدن له وخت سره، چې ۲۰۰۰ کاله وړاندې راپیدا شوي دي، تړاو لري. د هند په لرغونو آثارو لکه مهابهارت کې د افغانستان نوم د گندهارا په نوم یاد شوی او د لوی اشوکا امپراطور په وخت کې افغانستان د هغه د امپراطورۍ شمالي برخه وه، تر هغه چې د اسلام ظهور وشو او مسلمانانو دا سیمې ورڅخه فتح کړې؛ خو معاصر افغانستان چې په ۱۸مه پېړۍ کې رامنځته شو، هغه وخت هم د هند او افغانستان تر منځ اړیکې د بریتانیا او روسیې امپراطوریو له امله خرابې شوې وې.[2]

د بریتانیا له استعمار څخه د هند له ازادېدو وروسته په لومړي ځل په ۱۹۵۰م کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ د تړون په لاسلیک کولو سره رسماً ډیپلوماټیکې اړیکې پیل شوې، چې په دې وخت کې هند له افغانستان سره د پښتونستان شعار هم بدرگه کاوه.[3]

د دواړو هېوادونو د معاصر تاریخ په اوږدو کې هند د اسلامي امارت له لومړۍ دورې پرته له نورو ټولو افغان حکومتونو سره دوستانه اړیکې ساتلې دي.[4] خو هغه وخت هم هند له اسلامي امارت سره په نه تعامل یوه ستراتیژیکه تېروتنه کړې وه، چې د اسلامي امارت له مخالفو لورو سره یې مرسته کوله.

په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکا له یرغل څخه وروسته د دواړو هېوادونو اړیکې د بل هر وخت په پرتله خورا مضبوطې شوې، حتا تر دې چې هند په افغانستان کې د ملکي متمرکزې پالیسۍ پر بنسټ د درې میلیارده ډالرو په ارزښت بلاعوضه پانگونه وکړه. له دې جملې څخه د نورو بنسټیزو پروژو سربېره، د چابهار بندر جوړول هم وو، چې افغانستان له هند سره د بحر له لارې او هند له مرکزي آسیا سره وصل کړي.

---

[1] Mazhar, M. S., & Goraya, N. S. (2014). Post-2014 Afghanistan: Reflections & Off-Shoots. University of the Punjab.

[2] Jha, R. A. J. A. N. (2020). India-Afghanistan Relations in Post-Taliban Era. *International Journal of Applied Social Science*, *7*(5), 287-292.

[3] Dawlatzai, M. K. (2020). India and Pakistan Rivalry in Afghanistan: A new Imperialism in the Making?. *Humanities*, *3*(1), 65-76.

[4] Jha, R. A. J. A. N. (2020). India-Afghanistan Relations in Post-Taliban Era. *International Journal of Applied Social Science*, *7*(5), 287-292.

د دې ټولې مودې په اوږدو کې هند په افغانستان کې درې سترې موخې لرلې: لومړی، د پاکستان د نفوذ مخه نیول او فشار پرې راوړل؛ دویم، له افغانستان سره اقتصادي اړیکې ټینګول، او دریم، د افغانستان له لارې په منځنۍ آسیا کې، چې د انرژۍ له پلوه بډایه سیمه ده، خپلې پښې ټینګول.[1] د پخواني شوروي اتحاد د ماتېدو او د منځنۍ آسیا د هېوادونو له راڅرګندېدو وروسته، د انرژۍ په بډایه هېوادونو کې د ځای موندلو لپاره یې افغانستان د پسرلي په توګه کاراوه.

په ۲۰۲۱ میلادي کال کې د امریکا له وتلو او د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته هند په افغانستان کې د ۹۰یمې لسیزې په څېر یو ځل بیا خپل سفارت په بشپړه توګه وتاړه او وېره یې درلوده چې ګواکې اسلامي امارت به د پاکستان تر اثر او رسوخ لاندې وي. خو وروسته هند تر ډېره دا درک کړه چې په افغانستان کې د ستراتیژیک حضور ساتلو لپاره له امارت سره له تعامل پرته بله چاره نشته. په دې برخه کې، نوي ډیلي په ښکاره ډول ځینې نوي نوښتونه وکړل، چې ممکن په ګډه د اسلامي امارت او د هند د حکومت ترمنځ د رسمي اړیکو د پرانیستلو لپاره لاره هواره کړي.[2] که څه هم اسلامي امارت د هند په ګډون ټولو هېوادونو ته د خپلو سفارتونو د پرانیستلو په اړه د بشپړ خوندیتوب او امنیت ډاډ ورکړی، خو دوی داسې انګیرې چې د سفارت پرانیستل به په افغانستان کې د مشروع رژیم په توګه د معرفي کولو لپاره یو ګام ثابت شي.

اسلامي امارت متوازن او اقتصاد محوره سیاست غوره کړی، او د ملي ګټو او متقابل احترام پر بنسټ یې سیاسي، اقتصادي، او د فرهنګي اړیکو دراوزې د نړۍ پر مخ خلاصې کړې، چې په دې توګه د اسلامي امارت بهرنۍ پالیسي په متوازن او د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې پر اصل ولاړه ده.[3]

دا څېړنیز مقاله د اسلامي امارت له بیا واکمنیدو وروسته د افغانستان په اړه د هند بهرنۍ تګلاره تحلیلوي او هغه برخې په ګوته کوي چې په راتلونکې کې د دواړو هېوادونو د نږدې کېدو او د

---

[1] Ghosh, S. (2020). “Enemy at the Gates”: An Analysis on India’s Experiences with the Taliban. *Jadavpur Journal of International Relations*, *24*(2), 152-171.

[2] Ganaie, R. A., & Ganaie, M. A. (2022). India’s Afghanistan policy: a quest for strategic space post the US withdrawal. *Humanities and Social Sciences Communications*, *9*(1), 1-

[3] دولتزی، محمد کوثر (۱۴۰۱)، د متوازن بهرني سیاست په رڼا کې د سیمې هیوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې. د ستراتیژیکو مطالعاتو ژورنال، ۵۵، ۹-۴۷.

اړیکو د ټینګښت او د دوه اړخیزه تعامل د پراختیا لامل کیدای شي.

**د اسلامي امارت پر وړاندې د هند بهرنۍ تګلاره**

کله چې شوري اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، نو هند د یرغل په پایله کې د رامنځته شوي حکومت پراخ ملاتړ وکړ، حال دا چې دواړه هېوادونه د ناپیلي غورځنګ غړي وو؛ خو د دې غورځنګ د اصولو خلاف یې خپل ملاتړ ته دوام ورکړ.[۱] په نوییمه لسیزه کې هند د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې، چې دوی یې اسلامي بنسټپاله او د پاکستان پلوی حکومت ګاڼه، د مخالفینو طرف ونیو او خپل سفارت یې په مکمله توګه په لومړي ځل په افغانستان کې وتاړه. هغه وخت هم د اسلامي امارت د بهرنیو چارو پخواني وزیر مولوي وکیل احمد متوکل له هند سره د اړیکو په اړه ویلي وو، چې مونږ له هند سره په دې شرط ښې اړیکې لرلی شو چې هغوی په افغانستان کې لاسوهنه بنده کړي.[۲] په دې دوره کې د هند هوایي شرکت الوتکه IC-814 له نیپال څخه وتښتول وشوه او وروسته له دې چې هیڅ هېواد ورته د کښیناستلو اجازه ورنه کړه بیا یې په کندهار کې ناسته وکړه. د هغه وخت د هند د بهرنیو چارو وزیر جسونت سینګ د دې قضیې د هوارولو په اړه د امارت د هلو ځلو ستاینه هم وکړه.[۳]

هند دې نتیجې ته ورسېد، چې په افغانستان کې نظامي ښکیلتیا کومه مثبته پایله نه شي لرلی. همغه وو چې پر افغانستان له امریکایي یرغل وروسته هند د افغانستان په اړه په خپل چلند کې محتاط پاتې شو، او په دې جګړه ځپلي هېواد کې د نظامي ښکیلتیا پر ځای یې په مرستو ولاړې بهرنۍ پالیسی تکیه وکړه. هند له افغانستان سره د سترو مرسته کوونکو هېوادونو په ډله کې وو، چې د جیو-سیاسي او ستراتیژیکو هیلو له مخې د محاسبې د روښانه کولو لپاره د فکري تحقیقاتو مخه نیسي. د بهرنۍ مرستې مفکوره، چې د سړې جګړې د ډیپلوماسۍ د لنډمهاله مصلحت په توګه پیل شوې وه، نن ورځ په حقیقت کې یو نړیوال نورم ته وده ورکړه. دلته روښانه موخه دا ده چې له افغانستان سره د هند په مرستو کې شته نیمګړتیاوې له منځه یوړل شي.[۴]

[1] Ram, R. & Humayun, (2022). The Afghan Debacle and the Taliban Triumph: What India Expects? *Humanities*, 5(1), 1-8.

[2] Ghosh, S. (2020). "Enemy at the Gates": An Analysis on India's Experiences with the Taliban. *Jadavpur Journal of International Relations*, *24*(2), 152-171.

[3] Ibid, 12.

[4] Dutta, A. International Negotiation Through Foreign Aid: India‟ s Aid To Afghanistan.

په تېرو شلو کلونو کې هند په ۲۰۰۵ – ۲۰۰۶ کې یو ځل بیا درک کړې وه چې طالبان د افغانستان یو داسې حقیقت دی چې سترګې ورڅخه نه شي پټېدای. خو د هند مفکرین په دې خورا زیات خفه وو، چې ولې هند هغه وخت د طالبانو سره د خبرو اترو لپاره کافي ډیپلوماتیکي سرچینې مصرف نه کړې چې کله ورته اړتیا وه. دوی زیاتوي چې که د هند دا ناپاکه افغان پالیسي نه وای او نوي ډیلي له طالبانو سره د اړیکو چینلونه خلاص کړي وای (کله چې لویدیځ په خپله د سولې خبرې په جدي ډول تعقیبولې) نو هند به د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د ستراتیژیکې ماتې احساس نه کاوه.[1] دوی به همیشه د افغان سولې په اړه له اسلامي امارت سره د هر ډول ښکیلتیا په کلکه مخالفت کاوه او ویل به یې چې "د سولې پروسه باید د افغانانو په مشرۍ، د افغانانو په مالکیت او د افغانانو تر کنټرول لاندې وي".[2]

په ۲۰۲۱ کال کې هند په یو ډول څلور لارې کې ولوېد، چې له یوې خوا د هند په داخل کې د کرونا څپو زور اخیستی و او له بلې خوا د هند په لداخ سیمه کې له چین سره د پولې پر سر شخړه رامنځته شوه او په پایله کې یې ۲۰ هندي ځواکونه ووژل شول او ۳۰۰ کیلومتر مربع ځمکه یې له لاسه ورکړه. بل لوري ته یې په افغانستان کې ملاتړی حکومت وپرځېد او د اسلامي امارت بیاراتګ ورته د وړاندوینې وړ نه و.[3]

د اسلامي امارت له بیاواکمنیدو وروسته هند یو ځل بیا محتاط ګامونه پورته کړل، چې په لومړیو کې یې د خپل پخواني دریځ له امله خپل سفارت د یو څه مودې لپاره وتاړه او بیا وروسته د اسلامي امارت د مشرانو لخوا ټولو هېوادونو ته د خپلو سفارتونو پرانیستلو په اړه د خوندیتوب او امنیت له بشپړ ډاډ ورکولو سره د سیمې هېوادونو خپلو سفارتونه پرانیستي وساتل، چې په دې لړ کې هند هم د تخنیکي ماموریت په نوم خپل نسبي حضور پیل کړ.

د اسلامي امارت له بیا راتګ وروسته، له افغانستان سره د اړیکو او پانګونې په اړه د هند د

[1] Ganaie, R. A., & Ganaie, M. A. (2022). India's Afghanistan policy: a quest for strategic space post the US withdrawal. *Humanities and Social Sciences Communications*, *9*(1), 1-8.
[2] Ram, R. & Humayun, (2022). The Afghan Debacle and the Taliban Triumph: What India Expects? *Humanities*, 5(1), 1-8.
[3] Bhavnani, R. R., & Bhogale, S. (2022). India in 2021: At the Crossroads. *Asian Survey*, *62*(1), 161-172.

بهرنیو چارو وزیر ویلي وو، چې په افغانستان کې د هند پانګونه له "افغان ولس سره تاریخي اړیکه لري". د هغه په خبره: "زه فکر کوم چې له افغانانو سره زموږ اړیکې به بې له شکه همدا ډول دوام ولري او دا به په راتلونکي کې د افغانستان په اړه زموږ چلند ته لار هواره کړي".[1] خو له افغانستانه د امریکا او ناټو تر وتلو وروسته د هند رول خړپړ شوی او په ورته وخت کې یې پراختیایي پروژې درولې دي. په هرصورت، افغانستان به د هند د بهرنۍ پالیسۍ په اجنډا کې یوه مهمه برخه وي، او امکان نه لري چې هند یې پرېږدي.

پر دې سربېره، یو لړ اندېښنې چې هند یې د اسلامي امارت په اړه لري لکه په افغانستان کې د چین او پاکستان نفوذ او یا دا چې د اسلامي امارت له واکمنېدو سره به په کشمیر کې نا امني زیاته شي، دا او دې ته ورته اندېښنو په اړه د اسلامي امارت د چارواکو له له لوري د ډاډ ځوابونه ورکړل شوي[2] او هند یې هڅولی چې خپل ډیپلوماتیک حضور یو ځل بیا پیل کړي.

هند د اسلامي امارت پر وړاندې د "صبر کوه او وګاره" ستراتیژي تعقیبوي. له اسلامي امارت سره د هند ښکېلتیا پر دې تکیه کوي چې وګوري اسلامي امارت څه ډول بهرنۍ پالیسۍ خپلوي او دا چې آیا په تېرو دوو لسیزو کې ترلاسه شوي ټولنیز پرمختګ او دیموکراتیکو ارزښتونو ته ژمن دي که نه.[3] د اوس لپاره هند د نریندرا مودي د حکومت په مشرۍ په افغانستان کې د بشردوستانه ډیپلوماسۍ پر بنسټ له اسلامي امارت سره خپلو تعاملاتو ته دوام ورکوي، چې په دې لړ کې د درملو، غنمو او نورو خوراکي او غیر خوراکي توکو په برخه کې له افغانانو سره مرستې کوي. همدا راز، د ۲۰۲۳-۲۰۲۴ کال لپاره یې په خپله کلنۍ بودیجه کې د افغانستان لپاره دوه میلیارده هندۍ کلدارۍ چې شاوخوا ۶۷ میلیون ډالر کیږي، اعلان وکړ.[4] له دې معلومېږي

---

[1] Aryal, S. K., & Bharti, S. S. (2021). Post-Taliban Takeover: What is at Stake for India in Afghanistan?. South Asia Democratic Forum (SADF).

[2] Gupta, M. (2021). "Haqqani Network Scion Anas Haqqani Says Taliban Won't 'Interfere' in Kashmir, Clarifies Pakistan Connection." CNN News 18. https://www.news18.com/news/world/exclusive-talibans-anas-haqqani-says-wont-interfere-in-kashmir-clarifies-pakistan-connection-4150346.html

[3] Hasanzada, F. & Zabihullah, (2022). Relations Between Islamic Emirate of Afghanistan and India: Revisiting the Future. *Humanities*, 5(2), 1-10.

[4] Dixit, G. A. (2023). India and Afghanistan: Humanitarian Assistance as Development Partnership. *United Service Institution of India,* https://www.usiofindia.org/strategic-perspective/India-and-Afghanistan-Humanitarian-Assistance-as-Development-Partnership.html (accessed on 11/08/2023).

چې هند نه غواړي افغانستان له لاسه ورکړي او ښکاري چې په نږدې راتلونکي کې به خپل دیپلوماتیک ماموریت بیا پیل کړي، ترڅو هغه پانګونه چې دوی په تېرو شلو کلونو کې کړې خوندي وساتي. د دې تر څنګ، هند هڅه کوي چې د افغانستان په اړه د سیمییزو او نړیوالو غونډو له لارې خپل اثر او رسوخ ښکاره کړي او د اسلامي امارت له چارواکو سره د باور فضا رامنځته کولو په خاطر لیده کاته وکړي.

همدار راز، نوی ډیلي ښايي په افغانستان کې له نوي حکومت سره د سیاسي جوړجاړي او همکاري بیا پیلول په دې شرط وکړي چې له سیمه‌ییزو توندلارو ډلو څخه واټن یقیني کړي، خو بشري مرستې به مشروطې نه وي او هند به د افغانستان له خلکو سره د اړتیا وړ مرستو ته دوام ورکړي.[1]

## د اسلامي امارت او هند ترمنځ د شته همکاریو فرصتونه

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د اسلامي امارت بهرنۍ پالیسي د متوازن بهرني سیاست په رڼا کې پر ملي ګټو، متقابل احترام او د نورو په داخلي چارو کې پر نه لاسوهنې راڅرخي او پر همدې بنسټ د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره خپلې سیاسي، اقتصادي، او فرهنګي اړیکې سمبالوي. دې ته په کتو سره اسلامي امارت د هند په ګډون له نړیوالې ټولنې سره همکاري کولو ته چمتو دی.

د اسلامي امارت په بهرني سیاست کې د لاسته راوړنو په برخه کې د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي په ګڼو نړیوالو او سیمه‌ییزو مناسبتونو کې روښانه کړې چې اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره حسنه اړیکو جوړولو ته لېوالتیا لري او د اختلافاتو حل په سوله‌ییزه توګه د خبرو اترو له لارې غواړي.[2] د بهرني متوازن سیاست یوه تر ټولو لویه ګټه دا هم ده، چې په سیمه او نړۍ کې د رقابتونو پر ځای همکاري او فرصتونه رامنځته کوي[3] او همدا راز د دښمنانو پر ځای

---

[1] Rizwan, A, & Taieb, R, & Jami, M. (2021). Reset or Rivalry? India and Afghanistan post-2021. *Friedrich Ebert Stiftung.*

[2] د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز. (۱۴۰۱)، د بهرنیو چارو وزارت؛ یو کلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، کابل: د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز.

[3] متقي، مولوي امیرخان. مرکه، (۱۴۰۲)، د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنی سیاست. د ستراتیژیکو مطالعاتو ژورنال، ۵۸، ۱۳۹-۱۴۹.

دوستان زياتوي؛ ځکه نو اسلامي امارت غواړي د متقابلو ګټو په نظر کې نیولو سره افغانستان له سيمې او نړۍ سره وصل کړي.[۱] دې ته په کتو سره د افغانستان اسلامي امارت او هند تر منځ د چابهار بندر، تاپي پروژې، بيارغونه او کانونو کې پانګونه او د امنيت او مخدره توکو پر وړاندې مبارزه هغه برخې دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ يو له بل سره د همکاريو د پراختيا لپاره ښه فرصت ګڼل کېدای شي. دلته هره برخه جلا جلا تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی؛ د چابهار ټرانسپورټي بندر**

د هند دا اندېښنه، چې که چين د يو کمربند او يوې لارې په نوښت (BRI) کې د افغانستان په ادغام کې بريالی شي، نو د هند سيمه‌ييز نفوذ به نور هم کم شي. ځکه چې هند د BRI مخالفت کوي، په ځانګړې توګه د چين-پاکستان اقتصادي دهليز (CPEC) له امله، چې د هند او پاکستان ترمنځ له لانجمنې سيمې څخه تيريږي او بل دا چې په دې کار سره به د چابهار ارزښت له منځه لاړ شي.[۲] په دې اړه اسلامي امارت نه يوازې د چابهار بندر پروژې ملاتړ کوي بلکې د چابهار بندر د شمال-جنوب په نړيوال ترانسپورت دهليز کې شاملولو وړانديز هرکلی کړی، چې ممبۍ له مسکو سره نښلوي.[۳]

د چابهار تړون هند او ايران له يو بل سره نښلوي؛ ايران ته د هند له سمندر سره نښلون زمينه برابروي؛ هند ته د عربي سمندر له لارې افغانستان، هرمز تنګي او منځنۍ اسيا ته د لاسرسي زمينه برابروي. تر ټولو مهمه دا چې دغه تړون په وچه کې راګير افغانستان ته د سمندري سوداګريزو لارو د لاسرسي فرصت برابروي. همدا راز، د چابهار پروژه د افغانستان لپاره يو فرصت دی چې د سوداګرۍ او صنايعو د اړتياوو لپاره پر پاکستان له ډېرې تکيې کولو څخه ځان خلاص کړي او د افغانستان او هند په نښلولو کې د پاکستان له لوري جوړېدونکي خنډونه له منځه يوسي.[۴] د هند

[۱] فيصل، محمد (۱۴۰۱)، د ايران او سعودي عربستان خپلمنځي رقابتونه او د ا.ا.ا. متوازن بهرنی سياست. د ستراتيژيکو مطالعاتو ژورنال، ۵۵، ٩٦-٦٩.

[2] Aryal, S. K., & Bharti, S. S. (2021). Post-Taliban Takeover: What is at Stake for India in Afghanistan?. South Asia Democratic Forum (SADF).

[3] Krishnasai, C. (ed). (2022). "Taliban back usage of India-built Chabahar port, says ready to provide facilities: Report." *WION. https://www.wionews.com/south-asia/taliban-back-usage-of-india-built-chabahar-port-say-ready-to-provide-facilities-541441*

[4] Omidi, A., & Noolkar-Oak, G. (2022). Geopolitics of chabahar port for Iran, India and Afghanistan. *South Asia Research*, *42*(1), 21-39.

لپاره، د چابهار پروژه، له منځنۍ آسیا، روسیې او اروپا سره د پراخو سوداګریزو اړیکو جوړولو لپاره یوه مهمه دروازه ده. په ورته وخت کې، د منځنۍ اسیا، روسیې او اروپا لپاره، چابهار بندر د هند سمندر د سمندري سوداګرۍ او ټرانسپورټ لارې لپاره غوره لاره ده.

**دویم؛ د ټاپي د ګازو لېږد پروژه**

همدارنګه، د ټاپي پروژه یوه بله ستره د همکاریو ساحه ګڼل کیږي. دا چې هند د انرژۍ په برخه کې له کمښت سره مخ دی، نو ځکه د دې پروژې بشپړېدل ورته حیاتي ارزښت لري. هند باید د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند د ګازو پایپ لاین پروژې (TAPI) په څېر د نیمګړو پروژو د بشپړولو لپاره مقاومت وکړي او ګټې ترلاسه کړي. دا پروژه د ټرانس - افغانستان پایپ لاین په نوم هم پېژندل کیږي، چې په دې سیمه کې د ګازو تر ټولو لویه لېږدوونکې پروژه ده.[1] دا پروژه ۲۰۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري او د یو میلیون متر مکعب په اندازه ګازو د انتقال ظرفیت لري.[2] د دې احتمال هم شته چې چین په دې پروژه کې شامل شي، خو که چېرې چین په دې پروژه کې شامل شي، نو تمه ده، چې د هند او چین اړیکې به مثبت لوري ته ولاړې شي.[3] په دې برخه کې افغانستان هم باید د دغو ټولو اقتصادي او پرمختیایي پروژو د پلي کولو لپاره جدي هڅې وکړي چې په تېرو څلورو لسیزو کې په ټپه ولاړې وې. دا او دې ته ورته پروژې په پراختیا او پرمختګ کې د پام وړ مرسته کوي او هم په امنیت، اقتصاد، سیاسي ثبات، بهرنۍ مستقیمې پانګونې، سوداګرۍ، نړیوالو او سیمه‌ییزو اړیکو په ساتلو کې مستقیم اغېز کوي.[4] په دې کار سره به د افغانستان د جغرافیایي موقعیت اهمیت چې له پېړیو راهیسې د ختیځ – لویدیځ او شمال-سویل تر منځ د پله په توګه کارېده یو ځل بیا راژوندی شي او یو ځل بیا به د دې سیمې پر څلورلارې بدل شي.

[1] Hasanzada, F. & Zabihullah, (2022). Relations Between Islamic Emirate of Afghanistan and India: Revisiting the Future. *Humanities*, 5(2), 1-10.

[2] Yildirim, A. (2023). The Idea of Transmitting Central Asian Energy through Afghanistan: TAPI Natural Gas Pipeline Project. *Eskişehir Osmangazi Üniversitesi Sosyal Bilimler Dergisi*, *24*(2), 362-380.

[3] Izimov, R. (2016). China and Turkmenistan–a Regional Dimension. *Central Asia Bureau*.

[4] Saqib, M. Y. (2019). TAPI project as a role model for other national development projects of Afghanistan. *International Journal of Recent Technology and Engineering (IJRTE),* 7(6S5) 300-305.

**درېيم؛ د افغانستان په بيارغونه او کاني زېرمو کې پانګونې**

له **۲۰۰۲**م کال راهيسې، هند په افغانستان کې د پراختيايي مرستو په برخه کې د ډېرو زيربنايي پروژو په جوړولو کې مرسته کړې، چې لګښتونه يې کابو **۳** ميليارد ډالرو ته رسېږي. په افغانستان کې د هند د پانګونې په پام کې نيولو سره، د عامو افغانانو په منځ کې هند يو ښه انځور جوړ کړی.[1]

په دې برخه کې که چېرې د هند لخوا هغه پروژې چې نيمګړې پاتې دي او يا نه دي پيل شوې، يو ځل بيا کار پيل شي نو دا کار به هغو فرصتونو ته لاره هواره کړي چې د هند او افغانستان مشترکې ګټې په کې نغښتې وي او د دواړو هېوادونو ترمنځ به د باور فضا رامنځته او لا پسې پراخه کړي. د افغانستان اسلامي امارت په رسمي توګه له هند څخه غوښتي چې خپلې نيمګړې پروژې بيا پيل او بشپړې کړي.[2] د دې پروژو د امنيت په برخه کې په دوحه کې د اسلامي امارت د سياسي دفتر مشر سهيل شاهين په يوه مرکه کې ويلي، چې د افغانستان د ښاري زيربناوو په ګډون د هند د پانګونې لپاره دروازې پرانيستلې دي او هندي شرکتونو ته يې د سوله‌ييز کاري چاپېريال ډاډ ورکړی. هغه ټينګار کړی، چې "د هنديانو امنيت زموږ مسؤوليت دی، او موږ دوی ته په دې برخه کې ډاډ ورکوو".[3]

په دې سره به دواړه هېوادونه وکړای شي چې د هند لخوا د افغانستان د کانونو په برخه کې هغه قراردادونه، چې په تېر نظام کې يې لاسليک کړي وو، بيا راژوندي کړي. په ۲۰۱۱م کال کې د هند د فولادو د شرکت اداري په مشرۍ د شپږو هندي شرکتونو په شراکت د باميانو په حاجي ګګ سيمه کې د اوسپنې د دريو کانونو لپاره امتيازات ګټلي وو، چې د کانونو د استخراج سربېره د ۱۰،۸ ميليارد ډالرو په ارزښت د فولادو او برېښنا فابريکو د جوړولو لپاره پانګونه وکړي، خو د

[1] Reyaz, M., & Ahamed, S. (2022). SCOPE AND LIMITATIONS OF SOFT POWER DIPLOMACY: A QUANTITATIVE ANALYSIS OF AFGHANS'PERCEPTIONS ABOUT INDIA. *Journal of Liberty and International Affairs*, *8*(2), 150-176.

[2] Subramanian, N. (2022). Taliban: asked India to complete its development projects in Afghanistan. *Indian Express*, *16*.

[3] Hosain, N. (2022). Taliban open to Indian efforts to restart people centric development projects. *Khama Press. https://www.khaama.com/taliban-open-to-indian-efforts-to-restart-people-centric-development-projects/*

يو لړ ستونزو له امله هندي شرکتو ونشو کړای چې کار پيل کړي.[۱] همدا راز د هند د فولادو ادارې ژمنه کړې وه چې په ياده برخه کې به د ۸۰۰ ميګاواټه بريښنا سټيشن هم جوړ کړي.[۲] په دې ترتيب، له ۲۰۰۱ کال راهيسې شاوخوا ۱۰۰ هندي شرکتونو په افغانستان کې پانګونه کړې چې له دې جملې څخه ۴۳ سلنه په خدماتو، ۴۱ سلنه په ساختماني چارو او ۱٦ سلنه په صنعتي سکتور کې بوخت وو.[۳]

سربېره پر دې، هند د دې وړتيا لري چې مخ پر ودې سکتورونو کې لکه، زيربناوې، مخابراتو، زراعتي او کوچنيو صنعتونو، روغتيا، درمل جوړونې، تعليم او معلوماتي ټيکنالوژۍ په برخه کې سالم رقابت وکړي.

**څلورم؛ امنيت او له نشه‌يي توکو سره مبارزه**

هند تل دا وېره لري چې په افغانستان کې د داعش خراسان ډلې پراخېدل به نه يوازې د کشمير مسئله نوره هم پېچلې کړي، بلکې په هند کې به په اصطلاح اسلامي بنسټپالنې ته وده ورکړي.[۴] حال دا چې اسلامي امارت په دې اړه د سيمې او د نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکړی چې هېچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د بل چا پرضد وکاروي، چې په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه او د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي ويناوې بسنه کوي.[۵]

د داعش خراسان ډلې پر وړاندې مبارزه اسلامي امارت د کابل له فتحې څخه مخکې پيل کړې[٦] چې په کې يې داعش ډله تقريبا په بشپړ ډول ځپلې ده.[۷]

---

[1] Yousaf, S. (2016). Afghanistan's Mineral Resource Potential: A Boon or Bane. *Journal of Current Affairs*, *1*(1), 86-109.

[2] Price, G. (2013). *India's policy towards Afghanistan* (p. 10). London: Chatham House.

[3] Ibid, 7.

[4] Wang, J. (2017). India's policy toward Afghanistan: implications to the regional security governance. *Asian Journal of Middle Eastern and Islamic Studies*, *11*(4), 112-120.

[5] د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز. (۱۴۰۱)، د بهرنيو چارو وزارت؛ يو کلن فعاليتونه او لاسته راوړنې، کابل: د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز.

[6] Shay, S. (2021). The armed resistance to the Taliban regime in Afghanistan. *Security Science Journal*, *2*(2), 7-21.

[7] Jones, S. (2016). The Islamic State-Taliban Rivalry in Afghanistan. *Brookings' Lawfare Blog*, *27*.

د کشمیر په مسئله کې د اسلامي امارت دریځ روښانه دی او په دې اړه د اسلامي امارت د جګ‌پوړي غړي انس حقاني او د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې ښیي، چې د کشمیر مسئله د هند او پاکستان خپلمنځي مسئله ده او دواړه دې په خپل منځ کې سره حل کړي.[1] په دې توګه، د داعش خراسان ډلې پر وړاندې مبارزه د هند او افغانستان لپاره د راتلونکو همکاریو لپاره یو له مهمو برخو څخه ده، چې پکې دواړه هېوادونه یو بل سره استخباراتي او تخنیکي معلومات شریکولی شي او دا چاره به له دواړو هېوادونو سره خپلو ګډو موخو ته په رسېدو کې مرسته وکړي او هم به په اړیکو کې لا پراختیا راولي.

د دې ترڅنګ، د نشه‌يي توکو ګواښ چې د هند په ګډون سیمه او نړۍ ورسره لاس او ګرېوان ده یوه بله مهمه د همکارۍ برخه ده. اسلامي امارت د مخدره توکو له کښت او قاچاق سره مبارزې ته ژمن دی او د تریاکو د تولید پرځای د بدیل کښت په لټه کې دی. د مخدره توکو له کښت او قاچاق سره د مبارزې په برخه کې تېر کال د امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخندزاده د بندیز فرمان صادر کړ، چې اوسمهال یې په ټول هېواد کې د کوکنارو کښت صفر ته راټیټ کړی.[2] نو په دې برخه کې هند کولی شي چې دکوکنارو د کښت بدیل لپاره د مېوو او اړتیا وړ نباتاتو د تخمونو په برخه کې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي.

**پایله**

سره له دې چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی، خو په تاریخي لحاظ هېڅکله هم منزوي شوی نه دی. په حقیقت کې دا هېواد له پېړیو راهیسې د هند-اروپايي سوداګرۍ د مرکز په توګه او همدارنګه له چین څخه منځني ختیځ ته د ورېښمو د لارې د تېرېدو نقطه وه. هند افغانستان ته د جنوبي آسیا د ټولنې د یوه مهم غړي په توګه او د هند، منځنۍ آسیا او ایران تر منځ یو پل او نښلوونکی هېواد په توګه ګوري. هند په افغانستان کې د ملکي متمرکزې پالیسۍ او د نرم ځواک ډیپلوماسۍ پر بنسټ وکړای شول چې د افغان ولس له خوا یو ملګری هېواد وګڼل

[1] دولتزی، محمد کوثر (۱۴۰۱)، د متوازن بهرني سیاست په رڼا کې د سیمې هیوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې. د ستراتیژیکو مطالعاتو ژورنال، ۵۵، ۹-۴۷.

[2] د بهرنیو چارو وزارت، (۱۴۴۵)، د امیر المومنین حفظه الله د فرمان تر صادریدو وروسته په افغاسنتان کې د کوکنارو کښت د صفر کچې ته راټیټ شوی. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت.

شي. دا چې اسلامي امارت متوازن بهرنی سیاست غوره کړی ترڅو هغه هېوادونه چې افغانستان یې د خپل ناسالمو رقابتونو لپاره ډگر گرځاوه، او د صفر-جمع لوبې پر بنسټ یې خپلې گټې خوندي کولې، د پای ټکی کېښود. د اسلامي امارت له بیاراتگ وروسته هند خپلې ډیپلوماسۍ ته دوام ورکړ او د پاکستان له لارې یې افغانستان ته د بشردوستانه مرستو په لړ کې د غنمو څو محمولې او هم یې درمل، واکسین، البسه او نور توکي واستول. ترځنگ یې، په خوست او پکتیکا کې له زلزله ځپلو سره مرستې وکړې.

د هند له لوري په چابهار بندر کې پانگونه او د زرنج دلارام لویه لاره جوړول، چې د کراچۍ بندر ته په کتلو سمندر ته نوې دروازه گڼل کیږي، د افغانستان لپاره خورا اهمیت لري. که دا او دې ته ورته پروژې لکه د ټاپي او د حاجي گک کان په پروژو کې، چې د هند او افغانستان مشترکې گټې پکې نغښتې وي، دوام ورکړل شي نو دا به د گډو همکاریو فرصتونه پراخ کړي.

د افغانستان اسلامي امارت ته په کار ده چې له هند سره د څو اړخیزې ډیپلوماسۍ له لارې ښکیل شي او په ورته وخت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړې کچې رسمي لیدنو ته وده ورکړي او هم د هند خصوصي شرکتونه وهڅوي چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. په افغانستان کې د هندي شرکتونو پانگونه خورا مهمه ده، ځکه د هند پانگونه به په افغانستان کې د چین د پانگونې په وړاندې سالم رقابت رامنځته کړي، چې په دې اساس به د افغانستان تولیدات له ارازانه قیمت څخه وژغورل شي او په لوړ قیمت به بازار ته وړاندې شي. همداراز د ټریک II ډیپلوماسۍ یا بیک چینل ډیپلوماسي چې پکې غیر دولتي، غیر رسمي اړیکې او د خصوصي اتباعو یا افرادو او ډلو ترمنځ او کله ناکله د غیر دولتي لوبغاړو په نوم لیدنې او فعالیتونه ترسره کیږي، دا جریان باید پیل کړل شي. که څه هم، افغانستان ته د هند د بهرنیو چارو وزارت د رسمي پلاوي سفر او د افغانستان اسلامي امارت له چارواکو سره د هغوی لیدنې دا څرگندوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو نوی فصل به په نږدې راتلونکي کې پرانېستل شي.

**ماخذونه:**

د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز. (۱۴۰۱)، د بهرنیو چارو وزارت؛ یو کلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، کابل: د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز.

متقي، مولوي اميرخان. مرکه، (۱۴۰۲)، د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنی سیاست. د ستراتيژيکو مطالعاتو ژورنال، ۵۸.

فيصل، محمد (۱۴۰۱)، د ایران او سعودي عربستان خپلمنځي رقابتونه او د ا.ا.ا. متوازن بهرنی سیاست. د ستراتيژيکو مطالعاتو ژورنال، ۵۵.

دولتزی، محمد کوثر (۱۴۰۱)، د متوازن بهرني سیاست په رڼا کې د سیمې هیوادونو سره د اسلامي امارت اړيکې. د ستراتيژيکو مطالعاتو ژورنال، ۵۵.

د بهرنيو چارو وزارت، (۱۴۴۵)، د امير المومنين حفظه الله د فرمان تر صادريدو وروسته په افغاستنان کې د کوکنارو کښت د صفر کچې ته راټيټ شوی. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت.

**انګليسي**

Aryal, S. K., & Bharti, S. S. (2021). Post-Taliban Takeover: What is at Stake for India in Afghanistan?. South Asia Democratic Forum (SADF).

Bhavnani, R. R., & Bhogale, S. (2022). India in 2021: At the Crossroads. *Asian Survey*, *62*(1).

Dawlatzai, M. K. (2020). India and Pakistan Rivalry in Afghanistan: A new Imperialism in the Making?. *Humanities*, *3*(1).

Dutta, A. International Negotiation Through Foreign Aid: India"s Aid To Afghanistan.

Dixit, G. A. (2023). India and Afghanistan: Humanitarian Assistance as Development Partnership. *United Service Institution of India,* https://www.usiofindia.org/strategic-perspective/India-and-Afghanistan-Humanitarian-Assistance-as-Development-Partnership.html (accessed on 11/08/2023).

Ganaie, R. A., & Ganaie, M. A. (2022). India's Afghanistan policy: a quest for strategic space post the US withdrawal. *Humanities and Social Sciences Communications*, *9*(1).

Ghosh, S. (2020). "Enemy at the Gates": An Analysis on India's Experiences with the Taliban. *Jadavpur Journal of International Relations*, *24*(2).

Gupta, M. (2021). "Haqqani Network Scion Anas Haqqani Says Taliban Won't 'Interfere' in Kashmir, Clarifies Pakistan Connection." CNN News 18. https://www.news18.com/news/world/exclusive-talibans-anas-haqqani-says-wont-interfere-in-kashmir-clarifies-pakistan-connection-4150346.html

Hasanzada, F. & Zabihullah, (2022). Relations Between Islamic Emirate of Afghanistan and India: Revisiting the Future. *Humanities*, 5(2).

Hosain, N. (2022). Taliban open to Indian efforts to restart people centric development projects. *Khama Press. https://www.khaama.com/taliban-open-to-indian-efforts-to-restart-people-centric-development-projects/*

Izimov, R. (2016). China and Turkmenistan–a Regional Dimension. *Central Asia Bureau*.

Jones, S. (2016). The Islamic State-Taliban Rivalry in Afghanistan. *Brookings' Lawfare Blog, 27*.

Jha, R. A. J. A. N. (2020). India-Afghanistan Relations in Post-Taliban Era. *International Journal of Applied Social Science*, *7*(5).

Krishnasai, C. (ed). (2022). "Taliban back usage of India-built Chabahar port, says ready to provide facilities: Report." *WION. https://www.wionews.com/south-asia/taliban-back-usage-of-india-built-chabahar-port-say-ready-to-provide-facilities-541441*

Mazhar, M. S., & Goraya, N. S. (2014). Post-2014 Afghanistan: Reflections & Off-Shoots. University of the Punjab.

Omidi, A., & Noolkar-Oak, G. (2022). Geopolitics of chabahar port for Iran, India and Afghanistan. *South Asia Research*, *42*(1).

Price, G. (2013). *India's policy towards Afghanistan* (p. 10). London: Chatham House.

Ram, R. & Humayun, (2022). The Afghan Debacle and the Taliban Triumph: What India Expects? *Humanities*, 5(1)

Reyaz, M., & Ahamed, S. (2022). SCOPE AND LIMITATIONS OF SOFT POWER DIPLOMACY: A QUANTITATIVE ANALYSIS OF AFGHANS'PERCEPTIONS ABOUT INDIA. *Journal of Liberty and International Affairs*, *8*(2).

Rizwan, A, & Taieb, R, & Jami, M. (2021). Reset or Rivalry? India and Afghanistan post-2021. *Friedrich Ebert Stiftung.*

Saqib, M. Y. (2019). TAPI project as a role model for other national development projects of Afghanistan. *International Journal of Recent Technology and Engineering (IJRTE),* 7(6S5).

Shay, S. (2021). The armed resistance to the Taliban regime in Afghanistan. *Security Science Journal*, *2*(2).

Subramanian, N. (2022). Taliban: asked India to complete its development projects in Afghanistan. *Indian Express*, *16*.

Wang, J. (2017). India's policy toward Afghanistan: implications to the regional security governance. *Asian Journal of Middle Eastern and Islamic Studies*, *11*(4).

Yousaf, S. (2016). Afghanistan's Mineral Resource Potential: A Boon or Bane. *Journal of Current Affairs*, *1*(1).

Yildirim, A. (2023). The Idea of Transmitting Central Asian Energy through Afghanistan: TAPI Natural Gas Pipeline Project. *Eskişehir Osmangazi Üniversitesi Sosyal Bilimler Dergisi*, *24*(2).